احسان الله ارینزی ۲۰۱۵/۰۴/۰۴

د نکاح د تازه کولو اړتیا

له نن څخه ۷-۶ لسیزې مخکې، د وردګو د سیدآباد ولسوالۍ شنیز دره کې، عبدالرحمن نومی یو مولوي اوسیده چې ډېر کلونه مخکې په حق رسیدلی دی.
اروابناد مولوي عبدالرحمن له هغو ملایانو څخه نه و چې خلک یې یوازې د دوزخ له لړمانو او مارانو وېرول؛ بلکې له هغو سره به یې مرسته کوله چې خپل ورځني ژوند او حلالې روزۍ ته هم پاملرنه ولري او هره ورځ د یو نوي کار په فکر کې شي!
د مولوي عبدالرحمن په اړه ډېرې کیسې شته؛ خو زه به یې دوه داسې خبرې دلته راوړم، چې له سپین ږیرو مې اوریدلې دي.
سپین ږیرې وایي چې مولوي به هر وخت هغو کسانو ته چې یو له بل سره یې حسنه یا سوداګریزو پولې راکړ ورکړه(معامله) درلوده؛ ویل چې یو د بل حساب پخپل وخت پاکوئ؛ خو که ځنډ پېښېږي لږ تر لږه کینئ او خپل حسابونه روښانه کړئ.هسې نه چې کال وروسته یې خبرې هیرې او خپګان پېښ شي.
د مولوی عبدالرحمن بله خبره د نکاح د تازه کولو په اړه وه.
لویان وایي، چې مولوي به له هغو ښځو او نارینه وو څخه چې پیاده روان وو؛ پوښتل چې یو د بل څه کیږئ؟
مولوي د نارینه وو په خور، مور، خورځې، نیا، وریرې او میرې کار نه درلود؛ خو که به کوم نارینه وویل، چې دا مې ښځه ده، ده به دواړه کینول او ویل به یې: چې په ورځني ژوند کې د ښځو او میړونو تر منځ داسې خبرې کیږي یا اعمال سرته رسي، چې نکاح ته زیان رسوي او په کار ده، چې نکاح هر وخت نوې شي.
مولوي به داسې ښځه او میړه په پوله کینول؛ له دواړو څخه به یې شرعي پوښتنې وکړې، بیا په یې خطبه ولوسته او ښځه به یې بیا ځلې میړه ته نکاح کړه.
مولوی به له دې وروسته دواړو ته ښه ژوند وغوښت او هیله وښوده چې دواړه د اسلامي احکامو او سیمه ییزه منلو دودونو په سیوری کې، خوږ، دروند، متفق او شریف ژوند ولري او بیا به یې دواړه رخصت کړل.
د اروابناد مولوي عبدالرحمن دا وړه کیسه ګې مې ځکه راوړه چې اونۍ مخکې (1393 هـ.ش د کب 19) د افغانستان د ملي شورى د شپاړلسمې دورې پنځم تقنینی کال پیل شو.
په دې غونډه کې ولسمشر محمد اشرف غني، پخواني ولسمشر حامدکرزي، اجرائیه رئیس، د ملي شورى مشرانو، د ولسمشر پخوانیو او اوسنیو مرستیالانو، وزیرانو، د قضائیه قوې مشر او د عالی شورى غړو، خبریالانو او د ملي شورى غړو او مشرتابه برخه درلوده.
داسې ښکارېده چې په دې غونډه کې نږدې ټولو ذواتو برخه درلوده چې د دندو د پیل په وخت کې یې، په قرآن عظیم الشان لاس ایښی او لوړه کړې چې افغانستان او خلکو ته به صادق اوسي او د هېواد ملي ګټې به په شخصي ګټو لوړې بولي!
شک نشته چې په تېرو څوارلسو کلونو کې د افغانستان د دولت په درې ګونو قواوو، ملي شورى، امنیتي چارواکو، څارنوالۍ او ځینو نورو ادارو کې ډېر هېواد پال، مسلکي، ژمن، مخلص او پاک خلک په کارونو ګومارل شوي وو؛ خو د هېواد اوسني بېخونده حالت په ډاګه وایي چې د تېر زعامت افراطي مصلحت پالنې داسې شرایط وزېږول چې اداري، سیاسي او حتی اخلاقي فساد اوج ته ورسېد، نړیوالو افغانستان د نړۍ لومړی درجه فاسد دولت وباله، د بشري حقونو نړیوالو ټولنو بار- بار په دولت کې د بشري حقونو د ناقضینو او جنګیالانو په شتون د اعتراض ناره اوچته کړه او د خلکو او دولت تر منځ واټن دومره ډېر شو چې ښایي د نړۍ په تاریخ کې ساری ونه لري!
څو ورځې مخکې پژواک خبري آژانس په یوه څېړنیز راپور کې وویل چې د بهرنیو چارو وزارت د چارواکو او وکیلانو په ورونو او زامنو ډک شوی او حتی دا یې هم وویل چې د مولوي کشاف غوندې دیني عالم دوه زامن بې له امتحانه دیپلوماتان مقرر شوي دي!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که په تېرو څوارلسو کلونو کې د دولت پرله پسې ناکامیو او مصحلت پالنې ته وګورو، دا په ډاګه ویلای شو چې له پخواني ولسمشره نیولې د ده تر مرستیالانو، ډېرو وزیرانو، مشاورینو، والیانو، قوماندانانو او نورو لوړپوړه چارواکو په هغه قسم پښه کېښوده چې په قرآن یې خوړلی او وطن ته د ژمنیتا لوړه کړې وه.
په دې قسم ماتونه کې د (جهاد) او (مقاومت) هغه تش په نامه مشران او کشران تر نورو څو ګام مخکې وو چې فکر یې کاوه د دې پراخه وطن د ملکیت شرعي قباله د دوی په جېب کې ده او د خلکو د سرښندنې په بدل کې یې د دنیا ټول امتیازات غوښتل!
چې بېرته د ارواښاد مولوي عبدالرحمن کمکی کیسه ګی ته راشو، په دې وخت کې چې هم کال نوې کېدونکی دی، هم دولت نوی دی او د ملي شورى پنځم او وروستنی تقنیني کال پیل شو په کار ده چې ولسمشر محمد اشرف غني، مرستیالان، اجرائیه رئیس، وزیران، والیان، وکیلان او ټول ملکي او امنیتي چارواکي او مشران خپله هغه لوړه یو ځلې بیا مخکې کېږدي چې د تقرر په وخت کې کړې او په قرآن عظیم الشان یې لاس ایښی چې زه به ملي ګټې لوړې ګڼم او قوانین به په پام کې نیسم!
تراوسه پورې د افغانستان خلکو قانون ته درناوی کړی؛ خو دولتي چارواکي د قوانینو ماتوونکي او ناقضین دي. د پخواني ولسمشر په وخت کې دی خپله، د ده مرستیالان، ډېر وزیران، والیان، قوماندانان، مشاورین، وکیلان او د دوی ورونه، د اکا زامن، خپلوان، ټوپکیان، مافیا، د قراردادونو او امکاناتو غله او نور چارواکي د قوانینو ماتوونکي وو چې اوس یې افغانستان یې د مرګ او ژوند د ګرنګ په غاړه درولی!
نو! راځي چې د مولوي عبدالرحمن په خبر د بیا ځلې نکاح خطبه ولولو، د خدای(ج)، خلکو او وطن په وړاندې خپلو درنو مسوولیتونو ته ځیر شو، د وطن ستري ملي ګټې په پام کې ونیسو او ځانونه په قرآن باندې هغه لوړې ته مکلف وګڼو چې د رسنیو په مخکې پورته شوي او ټول مسلمان ملت یې شاهد دی.
که داسې ونه شي دا حضرات، به خسر الدنیا والاخره وګرځي او داسې درواغجن تورمخي به وبلل شي چې د سپینو او سپېڅلو شعارونو په رڼا کې په شخصی ګټو پسې لالهانده او د یوه ستر ملت د تباهۍ عاملین دي!

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ